بسم الله الرحمن الرحيم

**سر یال نمبر: 514**

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# ډيره اسماعيل خان: د امنيتي ځواکونو يوه بله لويه بريا 8 خوارجان جهنم ته استول شوی

د ډيره اسماعيل خان (کلاچي) په مضافاتي سيمه لوني کې د خوارجو د موجوديت په اړه د پټو معلوماتو په اساس امنيتي ځواکونو په يو پر وخت او خورا بريالي عمليات کې اته خوارج ووژل۔

دتفصيلاتو له مخې، امنيتي ځواکونو پر وخت عمليات ترسره کړل او ترهګر هغه مهال په نښه کړل، چې دوی د ترهګريزو کړنو لپاره تګ راتګ کاوه۔ امنيتي ځواکونو د يوې پراخې تګلارې له مخې د ترهګرو د تېښتې ټولې لارې بندې کړې او په سختو ډزو کې يې د ترهګرو د مشر جهانزيب په ګډون 8 خواج ووژل۔







وژل شوي ترهګر په لوټمارۍ، هدفي وژنو، د بې ګناه خلکو او امنيتي ځواکونو په ضد په ګڼو ترهګريزو عملياتو کې لاس درلود او په دې وروستيو ورځو کې د ګمرک په مامورينو په بريد کې يوه بې ګناه نجلۍ او يو ځايي کس په قصدي توګه شهيدان کړي وو. د دغو ترهګرو وژل کېدل بې له شکه د امنيتي ځواکونو لپاره لويه بريا او د خوارجو لپاره لوی ګوزار دی۔

د سيمه ايزو خلکو سره نږدې د ترهګرو شتون ويره لري چې د دوی په وړاندې د عملياتو په وخت سيمه ايزو خلکو ته زيان رسيدلو انديښنا ده او سيمه ايز سهولتکاري ته اشاره کوي۔ د ترهګرۍ د له منځه وړلو لپاره د تسهيل کوونکو پيژندل او د هغوی پر ضد سخت اقدام کول ډير مهم دي۔

په ډيره اسماعيل خان او قبائيلي سيمو کې ګمارل شوي امنيتي اهلکار په پوره حوصلې او مسلکيتوب سره د ترهګرو ځالې په نخښه کوي او خوارج د سختو مشکلاتو سره مخ دي. په دې کې د ټولو امنيتي ادارو رول د ستايلو وړ دی۔ انشاءالله د خوارجو د له منځه وړلو لړۍ به دوام لري۔

مورخه: ۲۲ اپریل ۲۰۲۴ء

www.publicvoice.pk